هفته واره رساله

# د جنّت
# په باره کښې
# خوندور معلومات

(پښتو)

- معلوماتي سوال او جواب
- جنّتي میوې د دنیاوي میوو په شان ولې؟
- جنّتونه څو دي؟
- دنیا ته د جنّت نه راغلې 18 څیزونه

ترجمه
TRANSLATION
DEPARTMENT
(DAWAT-E-ISLAMI)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ ط
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

# د جنَّت پهٔ باره کښې خوندور معلومات

**دُعائے عطّار:** یا الله پاکه! څوک چې دا رساله ”د جنَّت پهٔ باره کښې خوندور معلومات“ ولولي یا واوري هغهٔ د مور پلار او خاندان سره پهٔ جنَّت الفردوس کښې د خوږ اخري نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاونډي جوړ کړې-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د جنَّت نا اشنا میوه (د دُرُود شریف فضیلت)

د مسلمانانو څلورم خلیفه، مولائے کائنات حضرت عليُّ المرتضیٰ شیرِ خُدا رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې الله پاک پهٔ جنَّت کښې یوه وَنه پیدا کړې ده د کومې میوه چې د منې نه غټه، د اَنار نه وړه، د کوچو نه نرمه، د شاتو نه هم خوږه او د مشکو نه زیاته خوشبوداره ده- د هٔغه وَنې ښاخونه د لمدو ملغلرو، تنه د سرو زرو او پاڼې د زبرجدو [د زمرُدو د یو قِسم] دي- د دې وَنې میوه صرف هغهٔ خوړلے شي څوک چې د مدینے پهٔ تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې زیات دُرُودِ پاک لولي- (الحاوی للفتاویٰ، 2/48)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## دوه کورونه

الله پاک د دې دُنيا نه علاوه دوه نور عظيمُ الشان کورونه پيدا کړي دي: يو "د نعتمونو والا کور" دے، کوم ته چې جنَّت وئيلے شي او بَل "د سزا والا کور" دے کوم ته چې دوزخ وئيلے شي- الله پاک پهٔ جنَّت کښې د خپل ايمان والؤ د پاره ډير قِسمه داسي نعمتونه جمع کړي دي کوم چې نۀ چا ليدلي دي، نه چا اوريدلي دي او نه د يو انسان پهٔ زړهٔ کښې د هغې خيال راغلے دے- د جنَّت پهٔ تعريف کښې چې کوم مثالونه ورکولے کيږي هغه صرف د پوهه کولو د پاره دي ګنې نو د دُنيا د ټولو نه بهترين څيز د جنَّت د څهٔ څيز سره هيڅ مناسبت نه لري-

## جنَّت څومره غټ دے؟

د جنَّت طلبګارانو! د جنَّت پيدا کوونکے زمونږه خالق او مالک د قرآنِ کريم پهٔ څلورمه سيپاره، سورۀ اٰلِ عمران آيت نمبر 133 کښې ارشاد فرمائي:

وَسَارِعُوْٓا اِلٰى مَغْفِرَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُۙ اُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِيْنَۙ (۱۳۳)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او د خپل رب بخښني او د هٰغه جنَّت طرف

ته منډې کړئ چې د هغې فراختيا د اسمانونو او زمکې برابره ده. هغه د پرهيزګارو د پاره تيار کړے شوے دے۔

د دې آيت پۀ تفسير کښې دي: د ګناهونو نه پۀ توبه، د الله پاک د فرائضو ادا کولو سره، پۀ نيکو باندې عمل او پۀ ټولو اعمالو کښې د اخلاص پيدا کولو او د خپل رب د بخښنې او د جنَّت پۀ لور تادي کوئ۔ بيا د جنَّت فراختيا يـې داسې بيان کړله چې خلق پرې پوهه شي ځکه چې خلق چې د ټولو نه کوم فراخه (يعنې غټ) څيز وينې نو هغه هم اسمان او زمکه دي، د دې نه هغوئې اندازه لګولے شي چې که ټول اسمانونه او زمکې رايوځائے کړے شي او يو قطار ترينه جوړ کړے شي نو کومه فراختيا چې به جوړيږي د هغې نه د جنَّت د پلن والي اندازه لګيدے شي چې جنَّت خومره غټ دے۔

(تفسير صراط الجنان، پ 4، اٰل عمران، تحت الآية: 133، 2/ 53)

## معلوماتي سوال او جواب

د الله پاک پۀ عطا سره د غيب خبر ورکوونکي زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خِدمت کښې هِرقل بادشاه وليکل چې جنَّت دومره غټ دے چې اسمان او زمکه پۀ هغې کښې راشي نو بيا

دوزخ چرته دے۔ حضور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ جواب کښې وفرمائيل: سُبْحٰنَ الله! چې کله ورځ راشي نو شپه چرته وي؟

د قرآنِ کريم مفسر حضرت علامه نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: د دې فصيح و بليغ خبرو معنې ډيرې باريکې دي، پهٔ ظاهري طور معنیٰ دا ده چې د دوره فلکي (يعنې د اسمان ګير چاپيره) نه يو اړخ ته ورځ حاصليږي نو د دې بل اړخ ته شپه وي۔ دغه شان جنَّت اوچت طرف ته دے او دوزخ لاندې طرف ته۔ د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه يهوديانو دا پوښتنه وکړه نو هغوئي هم دا جواب ورکړے وو، پهٔ دې باندې هغوئي عرض وکړو: پهٔ تورات کښې هم داسې وئيلے شوي دي۔ مطلب دا دے چې د الله پاک د قدرت او اختيار نه څهٔ هم لرې نه دي کوم څيز چې چرته وغواړي ږدي يې، دا د انسان د نظر تنګي ده چې د يو څيز غټ والي ته حيرانيږي او پوښتنه کوي چې دا دومره غټ څيز به چرته راځائے کيږي؟ (تفسير خزائن العرفان، پ 4، اٰلِ عمران، تحت الآية:131، ص 120)

گدا بھی منتظر ہے خُلد میں نیکوں کی دعوت کا      خُدا دن خیر سے لائے سخی کے گھر ضِیافت کا

(حدائقِ بخشش، ص 37)

شرحِ کلامِ رضا: د الله پاک پهٔ بارګاه کښې امامِ اهلِسُنَّت اعلیٰ حضرت

رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د جنَّت د عظیمو نعمتونو ذِکر کوي او عرض کوي: یا الله پاکه! پۀ جنَّت کښې به نیکانو بندګانو ته ډیر نعمتونه او دعوتونه عطا کولے شي، زۀ هم د هغه دعوت انتظار کووم- ستا پۀ فضل او کرم دې پۀ خیر سره هغه وخت راشي چې مونږه به د ”جنَّتي نعمتونو“ نه خوند اخلو-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## جنَّت چرته دے؟

جنَّت چرته دے؟ پۀ دې باره کښې د علمائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم مختلف ارشادونه دي البته ډیره صحیح خبره دا ده چې جنَّت د اووم اسمان د پاسه دے څکه چې پۀ قرآنِ کریم کښې دي:

﴿ عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى ﴿۱۴﴾ عِنْدَهَا جَنَّةُ الْمَاْوٰى ﴿۱۵﴾ ﴾ (پ 27، النجم:15، 14)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: د سِدْرَةُ الْمُنْتَهٰی خوا سره- هغې سره [نزدې] جَنَّةُ الْمَاْوٰی دے- (فردوس الاخبار، 1/449، حدیث :3344)

د صحابئ رسول، حضرت اَنَس بِن مالِک رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه پوښتنه وکړے شوه چې جنَّت پۀ اسمان کښې دے که پۀ زمکه کښې؟ اوئې فرمائیل: کومه زمکه او کوم یو اسمان داسې دے پۀ کوم کښې چې جنَّت راځائے

شي؟ عرض وکړے شو: بیا چرته دے؟ اوئې فرمائیل: د اسمانونو د پاخه او د عرش د لاندې- (تفسیر خازن، پ 4، اٰل عمران، تحت الآیة:133، 1 / 301)

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** جنَّت ډیر عظیم الشان ځائے دے، د الله پاک د رضا او د هغهٔ د دیدن ځائے دے- پهٔ قرآنِ کریم کښې د جنَّت عظمت او شان څو ځل بیان شوے دے- الله پاک دې د خپل خوږ اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ وسیله زمونږه پهٔ جنَّت الفردوس کښې د خپل خوږ حبیب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤنډ نصیب کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

بِلا حساب ہو جنَّت میں داخِلہ یارب　　　پڑوس خُلد میں سرور کا ہوعطا یارب

(وسائلِ بخشش، ص 82)

## جنَّت څومره غټ دے؟

د جنَّت د عظمت هم څومره ښکلے شان دے- جنَّت څومره غټ دے، دا الله پاک او د هغهٔ پهٔ وئیلو هُم د هغهٔ رسول (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ) ته معلومه ده، خُلاصه دا ده چې پهٔ جنَّت کښې 100 درجے دي، پهٔ هرو دوو درجو کښې دومره فاصله ده څومره چې د اسمان او د زمکې ترمینځه ده- د "ترمذي شریف" حدیثِ پاک دے: که چرې ټول عالَم پهٔ یوه درجه کښې جمع شي نو د ټولو د پاره فراخه دے- (ترمذی، 239/4، حدیث:2540)

## د جنَّت ښکلا

انسان چې پۀ دُنیا کښې ښکلے منظر وه ویني نو بے اختیاره وائي چې د جنَّت پۀ شان منظر دے یعنې د یو عام انسان پۀ ذهن کښې هم د جنَّت نقشه ښکلې او ښائسته ده- خو یاد ساتئ چې د دُنیا ټولې ښکلې نظارې د جنَّت پۀ مخکښې هیڅ حیثیت هم نه لري ځکه چې جنَّت دومره ښکلے دے چې که د جنَّت د نوک همره څیز پۀ دُنیا کښې ظاهر شي نو ټول اسمان او زمکه به ښائسته شي او که چرې جنَّتي کَړه(بنګړے) ظاهر شي نو د نمر رڼا به ختمه کړي، لکه څنګه چې نمر د ستورو رڼا ختموي- (ترمذی، 241/4، حدیث: 2547 مفهوماً)

## جنَّت ته د داخلیدو بیان

د جنَّت دروازے به دومره پلنې وي چې د یو اړخ نه تر بل اړخ پورې به د تیز اَس د اویاؤ کالو پۀ مزل باندې وي (یعنې چې تیز اَس اویا کاله منډه ووهي، دومره غټې دروازے به وي)- (مسند امام احمد، 475/5، حدیث:16206 ملتقطاً) بیا به هم جنَّت ته تلونکي پۀ دومره شمیره کښې وي چې د یو بَل سره به یې اوګې لګیدلې وي بلکې د ګڼې پۀ وجه به دروازه ماتیږي- (بهار شریعت، 1/ 154، حصه:1) وړومبۍ ډله کومه چې به جنَّت ته ځي، د هغوئي مخونه به داسې پړقیږي لکه د څوارلسمې شپې د سپوږمۍ او دویمه

ډله به لکه چې ډېر پړقېدونکے ستورے وي، جنَّتيان به ټول يو زړۀ والا وي، د هغوئي به په خپل مينځ کښې هيڅ اختلاف او بُغض نه وي- (بهار شريعت، 1/ 157، حصه:1)

## په جنَّت کښې به وَنې څنګه وي؟

صحابئ رسول حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ يوه وړوکے شان لرګے اوچت کړو او اوئې فرمائيل: که په جنَّت کښې تۀ دومره لرګے هم لټوې نو تا ته به په نظر رانشي- عرض وکړے شو: بيا به د کجورې او دا نورې وَنې چرته وي؟ اوئې فرمائيل: د هغې جرړې به د ملغلرو او سرو زرو وي او په بره حصه کښې به يې ميوه وي- په جنَّت کښې يوه ونه ده د کومې په سوري کښې چې ترسلو [100] کالو پورې تيز آس باندې ناست مزل کوي بيا به هم سورے ختم نشي- (البدورالسافرة (اردو)، ص 654) (البدور السافرة، ص 367)

## جنَّتي محل او د هغې دروازه او ديوال

په جنَّت کښې د مختلف قِسمه قيمتي کاڼو داسې صفا سوتره محلونه دي د کومو دننه حصه چې د بهر نه او د بهر حصه د دننه نه ښکاري- د جنَّت ديوالونه د سرو زرو او سپينو زرو د خختو او د مشکو د خټې نه جوړ دي، يوه خخته د سرو زرو، بَله د سپينو زرو، زمکه يې د زعفرانو ده، د کاڼو په ځائے پکښې لعلونه او ياقوت (دي) او په يو روايت کښې دي چې د

جنَّتِ عَدن يوه خخته د سپينو ملغلرو ده، يوه د سرو ياقوتو ده، او د مشک خته ده او د ګيا پهٔ ځائے پکښې زعفران دي، د ملغلرو کاڼي، د عنبرو خاوره، پهٔ جنَّت کښې به د يوي يوي ملغلري خيمه وي د کومې اوچت والے چې به 60 ميله (وي)- (بہار شریعت، 1/ 154، حصہ:1)

سيِّدُنا امام محمد بن محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د جنَّتي محل شوق زياتوي او ارشاد فرمائي: پهٔ دې خبره باندې ډيره حيرانتيا ده چې که ستا ملګري يا ګاؤنډيان پهٔ مال يا اوچت کور کښې ستا نه مخکښې شي نو پهٔ تا باندې دا خبره ښه نه لګي او ستا سينه ورته تنګيږي او د حسد پهٔ وجه ستا ژوند ګرانيږي خو ستا د پاره د ټولو نه بهتر حالت دا دے چې تهٔ پهٔ جنَّت کښې خپل ځائے جوړ کړې حالانکې ډير داسې خلق دي کوم چې پهٔ جنَّت کښې د نيکو پهٔ ذريعه ستا نه زيات مخکښې تلونکي دي او دُنيا د خپل ټول مال او اسباب سره هم د هغې برابر نشي کيدے-

(احياء العلوم، 302/5- احياء العلوم (اردو)، 744/5)

صفِ ماتم اُٹھے خالی ہو زنداں ٹوٹیں زنجیریں
گنہگارو چلو مولیٰ نے در کھولا ہے جنَّت کا

(حدائقِ بخشش، ص 38)

شرحِ کلامِ رضا! امام عشق او محبت، اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د قيامت د ورځې د نبي رحمت، شفيعِ اُمَّت

صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شفاعت د خوندور منظر تصور سره بيانوي: د اللّٰه پاک پهٔ اجازت او رحمت باندې به چې کله زمونږه خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ګنهګارانو شفاعت فرمائي او دوزخ ته د تلونکو به د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شفاعت خيرات نصيب کيږي، بيا به د قيامت منظر څهٔ داسې وي چې پهٔ حساب کتاب کښې ولاړ پريشانه خلق به راپاڅي، د دوزخ د سزا نه به خلاصے ميلاؤيږي او اواز به راځي ګنهګارانو! ځئ ځئ د جنَّت طرف ته ځئ، اللّٰه پاک ستاسو د پاره د جنَّت دروازه برسيره کړې ده-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!  صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## جنَّتي شربتونه

د دُنيا د خوږ نه خوږ شربت او جوس د جنَّتي شربتونو نه قربان شه ځکه چې د دنيائي شربت او د جوسو مزه پهٔ خُله کښې د لږ سعت د پاره وي خو پهٔ جنَّت کښې خلور دريابونه دي، يو د اوبو، دويم د پئيو، دريم د شاتو او څلورم د شرابو، بيا د دې نه نهرونه ووځي او د هر جنَّتي پهٔ کور کښې بهيږي- د هٰغه ځائے د نهرونو شان دا دے چې هغه د زمکې پهٔ کنستو سره نه بهيږي بلکې د زمکې د پاڅه روان وي، د نهرونو يوه غاړه به د ملغلرو او بله د ياقوتو او د نهرونو زمکه به خالص د مشکو وي، د هٰغه

ځائے شراب د دُنیا د شرابو په شان نه دي په کومو کښې چې بدبوئي، تریو والے او نشه وي او ښښلو والا بے عقله، په خپل اختیار کښې نه وي او ګډي وډي خبرې کوي، هٰغه پاک شراب د دې ټولو خبرو نه پاک او مُنزَّه دي- (بهار شریعت، 1/ 155، حصه:1) اللّٰه پاک د قرآنِ کریم په دیرشمه سیپاره، سورة المطفّفين آیت نمبر 25 نه تر 28 کښې ارشاد فرمائي:

يُسْقَوْنَ مِنْ رَّحِيْقٍ مَّخْتُوْمٍ ﴿۲۵﴾ خِتٰمُهٗ مِسْكٌ ؕ وَ فِيْ ذٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُوْنَ ﴿۲۶﴾

وَ مِزَاجُهٗ مِنْ تَسْنِيْمٍ ﴿۲۷﴾ عَيْنًا يَّشْرَبُ بِهَا الْمُقَرَّبُوْنَ ﴿۲۸﴾

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: په هغوئي به پاک او صفا خالص شراب ښښلے کیږي- چې په هغې به مهر لګولے شوے وي- د هغې مهر (د) مُشکو دے او رغبت لرونکو له خو په هُم هغې کښې رغبت لرل پکار دي- او د دې ګډون د تسنیم سره دے- یوه چینه چې د هغې نه به مُقَرَّب بندګان ښښل کوي-

په "تفسیرِ صِراطُ الجنان" کښې د دې آیتونو تفسیر څهٔ داسې بیان کړے شوے دے: په جنَّت کښې به په دوئي باندې صفا سوتره خالص شراب ښښلے شي د کومو په لوښو باندې چې به مُهر لګولے شوے وي او هُم اَبرار [یعني پرهیزګاران] به د دې مهرونه لرې کوي، په دې لوښو باندې لګیدلے مُهر د مشکو نه جوړ دے او رغبت لرونکو ته د اللّٰه پاک د

اطاعت طرف ته رغبت کول او د ګناهونو نه د بچ کيدو سره دې ته رغبت کول پيدا کار دي چې هغوئي د مشکو مهر لګيدونکي دا شراب حاصل کړي او پهٔ دې شرابو کښې د تسنيم ګډون دے کوم چې د جنَّت پهٔ شرابونو کښې د ټولو نه اعلیٰ دي او د تسنيم شراب هُغه چينه ده د کومې نه چې به صرف د الله پاک مقرب بندګان څښې او د نورو جنَّتيانو پهٔ شرابونو کښې به د تسنيم شرابو يو څو څاڅکي ميلاؤهلے شي- (تفسير صراط الجنان، پ 30، المطفّفين، تحت الآية: 25 تا 28، 580/10)

## جنَّتي شراب د چا د پاره؟

د الله پاک خوږ اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو: څوک چې دا خوښوي چې الله پاک پهٔ هغهٔ باندې پهٔ اخرت کښې شراب وڅښې نو هغهٔ دې دا پهٔ دُنيا کښې پرېږدي- (معجم اوسط، 6/ 312، حديث:8879)

چشمِ تَر اور قلبِ مُضطَر دے　　اپنی اُلفت کی مَے پِلا یارب

(وسائلِ بخشش، ص 79)

## جنَّتي خوراک

پهٔ مختلفو ملکونو او ښارونو کښې د خوراک د خوند چيک کولو والؤ له د جنَّتي خوراکونو شوق ساتل پکار دي- الله پاک د جنَّتيانو د خوراکونو

ذِکر په قرآنِ کریم کښې فرمائیلے دے چې میوې، غټې مرغۍ، مَن او سَلوىٰ، شات، پئ او بے شمیره قِسمه خوندور خوراکونه به میلاؤیږي، هغوئي چې څۀ وغواړي نو فوراً به د هغوئي مخې ته موجود وي که یوه مرغۍ وه وینې او د هغې غوښې ته یې زړۀ وشي نو هٰغه وخت به هٰغه مرغۍ وِرته شوې د هغۀ خوا له راشي که د اوبو وغیره خواهش یې وي نو جام به یې پخپله لاسونو ته راشي، په هغې کښې به د صحیح اندازے مطابق اوبه، پئ، شراب او شات وي چې د هغۀ د خواهش نه به یو ځاڅکے نۀ کم وي او نۀ زیات، د څښلو نه پس چې د کوم ځائے نه راغلې وي پخپله به هٰغه ځائے ته لاړې شي- (بهارِشریعت، 155/1حصہ:1)

## جنَّتي میوې د دنیائي میوؤ په شان ولې؟

په قرآنِ کریم کښې د جنَّتي میوؤ په باره کښې وضاحت ارشاد شوے دے چې هٰغه میوې به د دنیائي میوؤ سره مشابهت لرونکې وي ځکه چې د جنَّتیانو دنیائي میوې خوښې وي خو د هغې خوند به د دنیا د میوؤ نه ډیر اعلیٰ وي- په ورومبی سیپاره سورۃ البقره، آیت نمبر 25 کښې ارشاد دے:

كُلَّمَا رُزِقُوْا مِنْهَا مِنْ ثَمَرَةٍ رِّزْقًا ۙ قَالُوْا هٰذَا الَّذِیْ رُزِقْنَا مِنْ قَبْلُ ۙ وَ اُتُوْا بِهٖ مُتَشَابِهًا ؕ

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: کله چې هغوئي ته د هٰغه باغونو نه د خوړلو د

پاره څهٔ میوه ورکړے شي نو وائي به، دا خو هُم هغه روزي ده کومه چې مونږ ته مخکښې راکړے شوې وه حالانکې هغوئي ته (مخکښې صرف پهٔ شکل کښې) د دې پهٔ شان میوه ورکړے شوې وه-

## پهٔ جنَّت کښې د هاضمې نظام

پهٔ جنَّت کښې به نجاست، گند، لاړې، د بدن خِیرے بالکل نه وي، یو خوشبوداره پهٔ ارام ډرقے به راځي، خوشبوداره پهٔ ارام خوله به ووځي، ټول خوراک به هضم شي، د ډرقي او خولې نه به د مشکو خوشبوئي ځي-
(مسلم ، ص 1165 ، حدیث : 7152 ملخصاً)

## د جنَّتیانو خِدمت

کم نه کم د هر جنَّتي سر ته به لس زره خادمان ولاړ وي، پهٔ خادمانو کښې به د هر یو سره پهٔ لاس کښې د سپینو زرو، پهٔ بَل لاس کښې د سرو زرو جام وي او پهٔ هر جام کښې به د بیل بیل رنګ نعمت وي، چې څومره یې خورې خوند به یې نه کمیږي بلکې زیاتیږي به، پهٔ هره نمړۍ کښې به اویا (70) خوندونه وي او د هر خوند به بدل وي او هُغه خوندونه به پهٔ ځائے محسوسیږي، د یو خوند احساس به پهٔ بَل خوند هیڅ اثر نه غورځوي- (بہار شریعت، 1/ 157، حصہ:1 ملخصاً)

گدا بھی منتظر ہے خُلد میں نیکوں کی دعوت کا　　　خُدا دن خیر سے لائے سخی کے گھر ضیافت کا

(حدائقِ بخشش ، ص37)

## د جنَّتيانو شان او شوکت

د ښه او قيمتي جامو اغوستو شوق لرونڪو! که د جنَّت کپړه پهٔ دنيا کښې واغوستے شي نو څوک يـې چې وينې نو بے هوشه به شي او د خلقو نظر به هغهٔ برداشت نه کړے شي- (بهار شريعت، 1 / 158، حصہ:1) ”د جنَّتيانو جامې به نه زړيږي-“ (بهار شريعت، 1/ 157، حصہ:1) د جنَّتيانو د سر، باڼو او وروځو د ويښتو نه علاوه به د بدن پهٔ يوه حصه هم ويښته نه وي، ټول به بے ويښتو وي، پهٔ رانجو تورې کړے شوې سترګې، د ديرشو کالو د عمر به ښکاري- ( مسند امام احمد، 393/3، حديث: 9386) چرې به هم د دې نه زيات نه معلوميږي- (ترمذی، 254/4، حديث: 2571) د جنَّتيانو ځواني به چرې هم نه ختميږي- (بهار شريعت، 1/ 159، حصہ:1) د نوؤ نوؤ فيشنونو اختيارولو سره د خلقو پهٔ مخکښې ښه ښکاره کيدونڪو ته جنَّت ته د بوتلونڪو اعمالو کوشش کول پڪار دي-

## د جنَّتي حورو حُسن او جمال

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** حُوره (يعني جنَّتي زنانه) که زمکې ته وګورې نو د زمکې نه به تر اسمانه پورې رڼا شي او د خوشبوئي نه به ډکه شي او د سپوږمۍ او نمر رڼا به لاړه شي او د هغې لوپټه د دُنيا ومافيها (يعني دُنيا او څهٔ چې پهٔ دې دُنيا کښې دي د دې) نه بهتر دي- ( بخاری،

264/4، حديث: 6568) هر يو جنَّتي ته به پهٔ حورِ عين (يعنې د غټو سترګو والا جنَّتي زنانؤ)نه کم از کم دوه ښځې داسې ميلاؤيږي چې اويا اويا جوړې به يې اغوستې وي بيا به هم د هغوئي د جامو او غوښې نه بهر د هغوئي د پنډو د هډوکو نَلي داسې ښکاري لکه څنګه چې پهٔ سپينه شيشه کښې سرهٔ شراب ښکاري او دا پهٔ دې وجه چې الله پاک دوئي ته د ياقوت پهٔ شان فرمائيلي دي، پهٔ ياقوتو کښې که چرې سورے وکړے شي او تار پکښې واچولے شي نو ضرور به د بهر نه ښکاري- انسان به د هغې پهٔ مخ کښې خپل مخ د ائينې نه هم زيات صفا ويني او پهٔ دې حوره باندې به چې د ادنیٰ درجے کومې ملغلرې وي هغه به داسې وي چې د مشرق نه تر مغربه پورې به رڼا کوي- (بهار شريعت، 157/1، حصه:1)

چې کله يو بنده جنَّت ته لاړ شي نو د دهٔ د سر او ښپو اړخ ته به دوه حورې دومره پهٔ خوږ اواز د الله پاک تعريف او پاکي بيانوي چې مخلوق به چرې هم دومره خوږ اواز نه وي اوريدلے- (معجم کبير95/8، حديث:7478)

## د ټولو نه زياتې حُورې د چا د پاره؟

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** د الله پاک پهٔ خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې پهٔ ناسته پهٔ ولاړه، د ګرځيدو پهٔ وخت هر وخت دُرودِ پاک لولئ

چې د اخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: " پۀ جنَّت کښې به د ټولو نه زیاتې حُورې هٰغه کَس ته میلاؤیږي څوک چې پۀ ما باندې د ټولو نه زیات درود لوستونکے وي-" (افضل الصلوات للنبهانی ، ص 25)

کیوں نہ زیبا ہو تجھے تاجوری تیرے ہی دم کی ہے سب جلوہ گری
ملک و جن و بشر حور و پری جان سب تجھ پہ فدا کرتے ہیں

(حدائقِ بخشش، ص 114)

شرحِ کلامِ رضا! اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه پۀ بارګاهِ رسالت کښې عرض کوي: یا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! د الله پاک پۀ عطا سره د دُنیا او د اخرت بادشاهي هم ستاسو لائقه ده ځکه چې د دنیا او د اخرت ټول سپرلي، نعمتونه هم ستاسو پۀ وجه دي، که تاسو دُنیا ته تشریف نه وے راوړے نو الله پاک به دا دُنیا نه وه پیدا کړے، د خالقِ کونین پۀ عطا سره تاسو مالکِ کونین یئ- فرښتے، پیریان، انسانان، حُورې او ښاپرې ټول ستاسو نه قربانیږي-

وہ جو نہ تھے تو کچھ نہ تھا وہ جو نہ ہوں تو کچھ نہ ہو     جان ہیں وہ جہان کی جان ہے تو جہان ہے

(حدائقِ بخشش، ص 178)

## د جنَّتیانو سورلۍ او خادمان

جنَّت ته د تللو خواهش لرونکو! جنَّتیان چې به د یو بل سره میلاؤیږي

نو د يو تخت به د بَل خوا له پهٔ هوا لا رٍ شي- او پهٔ يو روايت کښې دي چې هغوئي له به ډېر د اعلیٰ درجے سورلۍ او آسونه راوستے شي هغوئي به پهٔ هغې باندې کښيني او چرته چې تلل غواړي ځي به- (الترغيب والترہيب، 304/4، حديث: 115)

## جنَّتيانو ته د ميلاؤيدونکو نعمتونو بيان

د مرتبے او د درجے پهٔ لحاظ سره به د ټولو نه د وړوکي جنَّتي د پاره اتيا زره خادمان او 72 زره ښځې وي او هغوئي ته به داسې تاج ميلاؤيږي د کوم چې به د ټولو نه وړوکې لعل د مشرق او مغرب مينځ روښانه کړي (ترمذی، 254/4، حديث: 2571) او که مسلمان د اولاد خواهش وکړي نو د هغې حمل او وضع (يعني د ماشوم پيدا کيدل) او د پوره عمر (يعني د ديرشو کالو)، د خواهش کولو سره به هم پهٔ يوه لحظه کښې وشي- ( ترمذی، 254/4، حديث: 2572)

## پهٔ جنَّت کښې به ورځ او شپه نه وي

د جنَّت ژوند ډېر ښکلے او د هميشه د پاره دے، پهٔ دې وجه پهٔ جنَّت کښې خوب نشته چې خوب يو قِسم له مرګ دے او پهٔ جنَّت کښې مرګ نشته- حضرت زُبير بن محمد رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: پهٔ جنَّت کښې نه شپه شته او نه نمر او سپوږمی، جنَّتيان به هميشه پهٔ نُور کښې اوسيږي،

د هغوئي د پاره به د شپې او ورځې مقدار وي، د شپې پیژندګلو به دوئي ته د پردو زوړندولو او د دروازو د بندولو سره کیږي او د ورځې پیژندګلو به د پردے لرې کولو او د دروازے د برسیره کولو سره کیږي- (البدور السافرة (اُردو)، ص667- البدور السافرة، ص 375)

د الله پاک په بارګاه کښې د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه شهزاده مصطفٰے رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عرض کوي:

داخلِ خُلد ہم کو جو فرمائے تُو ہم ہوں اور حورو غِلماں لبِ آب جو
اور جامِ طہور اور مینا سبُو دیکھیں اعدا تو رہ جائیں پی کر لہو

اللّٰہ، اللّٰہ، اللّٰہ، اللّٰہ

(سامانِ بخشش، ص23)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د جنَّت موسم

حضرت عبدُ الله بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: په جنَّت کښې به موسم درمیانه وي، هلته به نه ګرمي وي او نه یخني- (البدور السافرة، ص 512)

## د جنَّت د ټولو نه لوئي نعمت

د حضرت سعید بن مسیّب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د حضرت ابو هریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ

سره ملاقات وشو نو حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ وفرمائيل: زهٔ د الله پاک نه سوال کووم چې هغهٔ ما او تاسو د جنَّت پهٔ بازار کښې يو ځائے کړي- حضرت سعيد رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ (حيران شو او) اوئې وئيل: آيا پهٔ جنَّت کښې به بازار هم وي؟ حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ وفرمائيل: آؤ! زهٔ رسولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خبر کړے يم چې جنَّت والا چې کله جنَّت ته داخل شي نو د جنَّت پهٔ درجو کښې به د خپلو اعمالو مطابق داخليږي، بيا به هغوئي ته د دنيا د ورځو پهٔ حساب سره پهٔ يوه هفته کښې اجازت ورکړے کيږي نو هغوئي به پهٔ کښې د خپل رَبّ زيارت کوي او د هغوئي مخې ته به د الله پاک عرش ظاهر شي او الله پاک به پهٔ هغې باندې د جنَّت پهٔ باغونو کښې پهٔ يو باغ کښې تجلي وفرمائي نو د هغوئي د پاره به د نُور منبر، د ملغلرو منبر، د ياقوتو او د زَبَرجَد منبر، د سرو او سپينو زرو منبرونه کيښودلے شي، پهٔ هغوئي کښې د ادنیٰ درجے والا جنَّتي حالانکې پهٔ هغوئي کښې به ادنیٰ څوک هم نه وي، د مشکو او د کافورو پهٔ ډيري باندې وي او هغوئي به دا تصور نه کوي چې کُرسو والا د هغوئي نه پهٔ اعلیٰ ځائے کښې دي- حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ فرمائي: ما عرض وکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! آيا مونږه به خپل رَبّ وينو؟ ارشاد يې وفرمائيلو: ”آؤ! آيا تاسو د نمر او د څوارلسمې شپې د سپوږمۍ پهٔ ليدلو کښې شک کوئ؟ مونږه عرض وکړو: نهٔ- ارشاد يې وفرمائيلو: هم داسې

به تاسو د خپل رَبّ پهٔ ليدلو کښې شک نه کوئ، پهٔ هٰغه مجلس کښې به د هر يو مخې ته الله پاک د حجاب نه بغير موجود وي تر دې پورې چې پهٔ هغوئي کښې به يو کَس ته ارشاد فرمائي: اے د فلانکي زويه! آيا تا ته هٰغه ورځ ياده ده چې کله تا داسې وئيلي وو؟ الله پاک به هغهٔ ته د هغهٔ بعضې دنيائي بد عهديانې رايادې کړي نو هٰغه بنده به عرض وکړي: اے الله! آيا تا زهٔ نه يم بخښلے؟ الله پاک به ارشاد فرمائي: آؤ! تهٔ خو زما د فراخه رحمت پهٔ وجه هُم دې خپلې درجے ته راورسيدلې- هغهٔ به هم پهٔ دې حالت کښې وي چې د هغوئي د پاځه به وريځې راخورې شي او پهٔ هغوئي باندې به داسې خوشبوئي اوروي چې هٰغه شان خوشبوئي به يې چرته پهٔ څهٔ څيز کښې نه وي موندلې، او زمونږه رَبّ به ارشاد فرمائي: د هٰغه اِکرام او انعام طرف ته لاړ شئ کوم چې ما ستاسو د پاره تيار کړے دے او پهٔ هغې کښې چې مو څهٔ خوښ وي واخلئ- بيا به مونږه هٰغه بازار ته رَسو کوم چې به فرښتو راګير کړے وي، پهٔ دې کښې به هٰغه څيزونه وي د کومو پهٔ شان چې نهٔ سترګو ليدلي، نهٔ غوږونو اوريدلي او نهٔ به پهٔ زړونو کښې د هغې خيال راغلے وي، نو بيا چې مونږه څهٔ غواړو هغه به مونږ ته راکولے شي، هلته به نهٔ خو اخستل وي او نهٔ خرڅول، او پهٔ دې بازار کښې به جنَّتيان د يو بَل سره ميلاؤيږي او اوچتې درجے والا به ښکته درجے والا سره به ميلاؤيږي حالانکې پخپله راځي او د ځان نه د ښکته درجے والا سره به ميلاؤيږي حالانکې

پهٔ هغوئي کښې ښکته څوک هم نشته نو پهٔ هغهٔ باندې چې به کومې جامې دا وينې هغه به د هغهٔ خوښې شي، لا به د هغهٔ اخري خبره ختمه شوې نه وي چې هغهٔ ته به پهٔ ځان باندې موجودې خپلې جامې ښه ولګي، دا به د دې د پاره وي چې پهٔ جنَّت کښې څوک غمژن نشي، بيا به مونږه د خپلو کورونو طرف ته واپس شو نو زمونږ سره به زمونږه ښځې ميلاؤيږي او وائي به: مرحبا، هر کلے! کوم وخت چې تاسو د دې ځائے نه تلي وئ د هغه وخت پهٔ مقابله کښې اوس ستاسو حُسن او جمال ډير زيات دے- نو بيا به مونږه وايو چې نن زمونږه د خپل رَبِّ کريم پهٔ دربار کښې کښيناستل نصيب شوي وو، د (خدائے) جبار پهٔ حضور کښې زمونږه يو ځائے کښيناستل نصيب شول، زمونږه حق هم دا وو چې مونږه داسې واپس شو لکه څنګه چې اوس واپس شوي يو- ( ترمذی،حديث: 246/4، حديث:2558)

## آيا زنانه به پهٔ جنَّت کښې د اللّٰه پاک ديدن کوي

د اللّٰه پاک د ديدن پهٔ باره کښې صحيح خبره دا ده چې (د جنَّتي نارينؤ او زنانؤ) دواړو به نصيب کيږي- (مراٰة المناجيح، 517/7)

## د اللّٰه پاک خاص عطا

حضرت مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: د جنَّت پهٔ نعمتونو کښې به د ټولو نه لوئي نعمت دا وي چې اللّٰه پاک به د جنَّتيانو نه راضي

وي- چرې به هم د دوئي نه ناراضه کيږي نهٔ- د محبوب رضا د عاشق د پاره د ټولو نه لوئي نعمت دے- ياد ساتئ چې د الله پاک رضا او د الله پاک ديدن به د څهٔ عمل بدله نه وي- دا به د رَبّ خاص عطيه وي- (نور العرفان، ص 315)

## جنَّتونه څو دي؟

د جنَّتونو شميره اتهٔ ده- ﴿1﴾ دارُ الجلال ﴿2﴾ دارُ القرار ﴿3﴾ دارُ السَّلام ﴿4﴾ جنَّت عدن ﴿5﴾ جنَّت ماویٰ ﴿6﴾ جنَّت خُلد ﴿7﴾ جنَّت الفردوس ﴿8﴾ جنَّت نعيم- (تفسير روح البيان، 82/1 ملتقطاً)

## د جنَّت دُعا

د الله پاک خوږ اخري نبي، مکي مَدَني مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو: چا چې درې کرته د الله پاک نه د جنَّت سوال وکړو نو جنَّت وائي: اے الله! دا جنَّت ته داخل کړې او کوم کَس چې درې ځله د دوزخ نه پناه وغوښته نو دوزخ وائي: اے الله! دا د دوزخ نه پهٔ پناه کښې وساته- (ترمذی، 257/4، حديث:2581)

## د کوم يو جنَّت دُعا کول پکار ده ؟

پهٔ يو بَل حديثِ پاک کښې نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو: چې کله تاسو د الله پاک نه سوال کوئ نو د "فردوس" سوال کوئ- (ترمذی، 238/4، حديث: 2538)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! آيا تاسو ته معلومه ده؟ جنَّت الفردوس کوم يو جنَّت دے؟ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حضراتِ اهلِ بيت او صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم به پهٔ جنَّت الفردوس کښې وي ځکه اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه پهٔ خپلو شعرونو او دعاګانو کښې اکثر جنَّت الفردوس غواړي: اَللّٰهُمَّ اَدْخِلْنَا جَنَّةَ الْفِرْدَوْسِ بِغَيْرِ حِسَابٍ -

میری سرکار کے قدموں میں ہی اِن شاءَاللہ
میرا فردوس میں عطار ٹھکانا ہو گا
(وسائلِ بخشش، ص 185)

د حديث پهٔ حکم باندې د عمل کولو پهٔ نيت سره د الله پاک پهٔ بارګاه کښې دعا کوو: يا الله پاکه د خاتم النبيين صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ وسيله باندې! مونږه ته بے حسابه بے کتابه پهٔ جنَّت الفردوس کښې د خپل خوږ اخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګاؤند راعطا کړې- يا الله پاکه! ما ته بغير د حساب او کتاب نه پهٔ جنَّت الفردوس کښې د خپل خوږ او اخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګاؤنډ رانصيب کړې- يا الله پاک ما ته پهٔ جنَّت الفردوس کښې د خپل اخري نبي، مکي مَدَني مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګاؤنډ راعطا کړې-
اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ہشتِ خُلد آئیں وہاں کسبِ لطافت کو رضاؔ
چار دن برسے جہاں ابرِ بہارانِ عرب
(حدائقِ بخشش، ص 61)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

# ځئ د جنَّت طرف ته

د جنَّت طلبګارانو! الله پاک د ایمان والؤ د پاره په جنَّت کښې څومره ښکلي ښکلي او اعلیٰ نعمتونه پیدا کړي دي، الله پاک دې په خپل رحمت باندې دا نعمتونه مونږ ته هم راعطا کړي او بغیر حسابه کتابه مو دې جنَّت ته داخلیدل نصیب کړي- په دنیا کښې د ښائسته منظرونو لیدلو د پاره خلق زرګونه، لکونه روپۍ لګوي او مختلفو ځایونو ته ځي بلکې د یو ملک نه بَل ملک ته هم سفر کوي- د دُنیا ښکلې منظرونه د جنَّت د ښائست په مقابله کښې هیڅ هم نه دي- کاش چې په غرونو، په سختو لارو د تللو سره بلکې بعضې وخت خپل ځان په خطره کښې د اچولو سره د دنیا د فنا کیدونکې ښکلا لیدلو د پاره تلونکي په زړونو کښې د همیشه پاتې کیدونکي جنَّت د ښکلا حرص پیدا کړي- د دُنیا د ښکلو نه ښکلے منظر چې وه وینې نو دا تصور وکړي چې کوم رَبّ فنا کیدونکې دا دنیا دومره ښکلې پیدا کړې ده کومه چې د لیدلو په لحاظ سره د هغهٔ د فرمانبرداره او ګنهګارانو دواړو د پاره یو شان ده نو هٰغه خدائے به خپل جنَّت کوم چې صرف د نیکانو او فرمانبردارو د پاره جوړ کړے دے هغه به څومره ښکلے وي- هغه هم داسې چې ختمیږي به نه، د یو څو منټو او د یو څو سعتونو د پاره نهٔ بلکې د هغهٔ په رحمت باندې جنَّت ته د داخلیدونکو به د همیشه ژوند نصیب کیږي- کاش چې د جنَّت موندلو د پاره د نیکو اعمالو کولو

شوق پيدا شي- د دنيا د لړو ورځو د سيلونو او مزو د پاره او د ښکلو منظرونو د ليدلو د پاره محنت برداشت کيدے شي نو د جنَّت حاصلولو د پاره د نيکو کوشش ولې نه کيږي-

سيِّدُنا امام محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د جنَّت د حقيقت او د جنَّتيانو د نعمتونو او خوشحالو تصور کوه او غور کوه او د هُغه کَس د ارمان اندازه ولګوه چا چې د جنَّت پهٔ بدله کښې صرف پهٔ دنيا باندې قناعت وکړو او د جنَّت نه محرومه شو- (احياء العلوم، جلد 303/5 ملخصاً)

**د جنَّت طلبګارانو!** جنَّت د عبادت پهٔ محنت کښې پټ کړے شوے دے- د دنيا 50، 60 کاله مختصر ژوند پهٔ عبادت کښې تير کړئ او د هميشه ژوند پهٔ راحت او سکون کښې تير کړئ- پهٔ نفس باندې د محنت کولو سره، پهٔ عبادتونو او رياضتونو کښې د وخت تيرولو سره پهٔ سُنتو باندې د عمل کولو سره، د نيکۍ دعوت ورکولو سره، د ګناهونو نه د بچ کيدو سره بلکې د نورو د بچ کولو سره ژوند تيروونکے به د الله کريم پهٔ رحمت باندې جنَّت ته داخليږي- يقيناً چې جنَّت به هم د الله پاک پهٔ رحمت باندې عطا کيږي، ځکه چې جنَّت ته د داخليدو د پاره هم هغهٔ مونږ ته د نيکو اعمالو د کولو او د ګناهونو نه د بچ کيدو حکم فرمائيلے دے ځکه مونږ له کوشش کول پکار دي چې مونږه د هغهٔ فرمانبرداره بندګان جوړ شو-

الله پاک دې په خپل رحمت، په خپل کرم او د خپل خوږ اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وسيله باندې زمونږه د ګنهګارانو خپل پاک کور جنَّت ته بغير د حساب او کتاب نه داخليدل نصيب کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## جنَّت ته بوتلونکي اعمال

هسې خو هر يو نيک کار جنَّت ته بنده بوتللے شي، اوس يو څو ھغه نيک اعمال بيانولے شي په کومو باندې چې د عمل کولو په باره کښې په حديثونو مبارکو او روايتونو کښې د جنَّت زيري ورکړے شوي دي- د الله پاک د رضا د پاره په دې باندې عمل کول جنَّت ته د داخليدو سبب جوړيدے شي-

## ﴿1﴾ کلمهٔ اِسلام

د مسلمانانو د دريم خليفه حضرت سِيّدنا عثمان غني رَضِیَ اللهُ عَـنْهُ نه روايت چې نبي رحمت صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: کوم کَس چې په ”لَآاِلٰهَ اِلَّا اللهُ “ د يقين ساتلو سره مړ شو هغهٔ به جنَّت ته داخليږي- (مسند ابو داؤد، ص265، حديث: 1965)

حضرت علامه عبدُ المصطفٰے اعظمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: دا د

اِسلام هٰغه "بنيادي کلمه" ده پهٔ کومه باندې چې د اِسلام ټول عمارت (ودانۍ) قائمه ده- دا کلمه بے شکه چې جنَّت ته د بوتلونکي عمل بلکې جنَّت ته د بوتلونکو ټولو نيکو اعمالو اصل او بنياد دے- پهٔ حديث کښې چې چرته صرف د " لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ " ذکر کړے شوے دے د هغې نه مُراد پوره کلمه يعني "لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰه" ده- (بہشت کی کنجياں، ص 33)

## ﴿2﴾ پهٔ سُنَّتو باندې عمل

پهٔ سُنَّتو باندې عمل يواځې جنَّت ته د داخليدو سبب نه دے بلکې پهٔ سُنَّتو باندې د عمل کوونکو خوش قِسمتو عاشقانِ رسول به پهٔ جنَّت کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاونډ نصيب کيږي لکه څنګه چې د اللّٰه پاک پهٔ عطا سره زمونږ د ګنهګارانو جنَّت ته د بوتلونکي خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې زما د سُنَّت سره محبت وکړو هغهٔ زما سره محبت وکړو او چا چې زما سره محبت وکړو هغهٔ به پهٔ جنَّت کښې زما سره وي-

(مشکوٰة المصابيح، 55/1، حديث:175)

سينه ترِی سُنّت کا مدينه بنے آقا    جنَّت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## ﴿3﴾ د جنَّت اتۀ واړه دروازے برسيره کيږي

پۀ حديثِ پاک کښې دي: چا چې پۀ ښه طريقه اودس وکړو او بيا يې د اسمان طرف ته مخ کړو او کلمۀ شهادت يې ووئيله د هغۀ د پاره د جنَّت اتۀ واړه دروازے برسيره کولے شي پۀ کومه چې غواړي دننه دې داخل شي- (دارمی ، 1 / 196، حديث: 716)

## ﴿4﴾ جومات جوړ کړئ، جنَّتي محل حاصل کړئ

د الله پاک پۀ عطا سره مالکِ جنَّت، قاسمِ نعمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: څوک چې د الله پاک د پاره يو جومات جوړ کړي نو الله پاک به د هغۀ د پاره پۀ جنَّت کښې يو کور جوړ کړي- (ابن ماجه ، 1/ 408، حديث: 737)

حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: که جومات وړوکے جوړ کړي او که غټ، که پۀ يواځې يې جوړ کړي او که د نورو سره يې پۀ شريکه که پۀ نيت کښې يې اخلاص وي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! هم دا ثواب (يعني پۀ جنَّت کښې کور) دے- (مرآة المناجيح ، 5 / 183)

## ﴿5﴾ نـمونځ

د مدينے د تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: الله پاک ارشاد فرمائي: ” که بنده پۀ وخت باندې نـمونځ وکړي نو زما د بنده زما پۀ ذمۀ

کرم باندې وعده ده چې هغۀ له عذاب ورنکړم او بے حسابه يې جنَّت ته داخل کړم-" (الفردوس بما ثور الخِطاب، 171/3، حديث: 4455)

پڑھتے رہو نماز تو چہرے پہ نور ہے        پڑھتا نہیں نماز وہ جنَّت سے دور ہے

## ﴿6﴾ سُنتِ مؤکده

د الله پاک د رحمت نه د ډک جنَّت پۀ غوښتلو کښې ناقلاره شئ او د دې د حاصلولو کوشش تيز کړئ- د فرض نـمونځ سره سره د سنتِ مؤکّده عادت جوړ کړئ او جنَّت ته داخل شئ لکه څنګه چې د ټولو مسلمانانو د خوږې مور جانې، حضرت اُمِّ حبيبه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا نه روايت دے چې د مدينے سرکار صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: کوم کَس چې پۀ شپه ورځ کښې دولس رکعتونه وکړي د هغۀ د پاره به پۀ جنَّت کښې يو کور جوړ کړے شي، څلور رکعته د ماسپښين د نـمونځ نه مخکښې او دوه رکعته د ماسپښين د نـمونځ نه پس او دوه رکعته د ماښام د نـمونځ نه پس او دوه رکعته د ماسخوتن د نـمونځ نه پس او دوه رکعته د سحر د نـمونځ نه مخکښې دي- (ټول دولس رکعتونه سنّتِ مؤکّده) (ترمذی،424/1، حديث:415)

پۀ يو حديثِ پاک کښې دي: چا چې د ماسپښين نه مخکښې څلور او وروستو پۀ څلورو باندې محافظت (يعني پابندي اختيار) کړله، الله پاک به پۀ هغۀ باندې وور حرام کړي- (ترمذی، 435/1، حديث: 428)

حضرت علاّمه طحطاوي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: داسې کَس به بالکل وور ته نه داخلیږي او د هغهٔ ګناهونه به وران کړے شي او پهٔ دهٔ باندې چې کومې حقونه دي الله پاک به پهٔ هغې باندې د هغهٔ فريق راضي کړي يا دا مطلب دے چې هغهٔ له به د داسې کارونو توفيق ورکړي پهٔ کوم باندې چې سزا نه وي- (حاشية الطحطاوى على الدرالمختار، 284/1) علامه شامي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: د هغهٔ د پاره زيرے دے چې پهٔ سعادت باندې به د هغهٔ خاتمه کيږي او هغهٔ به دوزخ ته نه ځي- (ردالمحتار، 547/2)

## ﴿7﴾ د تهجدو نــمونځ

د حضرت عبدُ الله بن سلام رَضِیَ اللّٰهُ عَــنْهُ نه روايت دے چې کله نبي پاک صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مدينے ته تشريف راوړلو نو ما چې د ټولو نه مخکښې کوم حديثِ پاک د نبي کريم صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه واوريدلو هغه دا وو چې اے خلقو! تاسو سلام عام کړئ، په خلقو باندي ډوډۍ وخورويُ، د خپلوانو سره ښه سلوک کوئ او د شپې چې کله ټول خلق اوده وي نو نــمونځ کوئ- که تاسو داسې کوئ نو پهٔ سلامتيا سره به جنَّت ته داخل شئ- (ترمذی، 4/ 219، حديث: 2493)

## د تهجدو د نــمونځ پهٔ برکت بخښنه

د سلسلهٔ عاليه قادريه رضويه عطاريه يولسم پير او مرشد حضرت جنيد

بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د وفات نه پس چا پهٔ خوب کښې وليدلو نو پوښتنه يـې وکړه: اے ابو القاسِم (دا د هغوئي کُنيت وو)! د وفات نه پس ستاسو سره څهٔ معامله وشوه؟ اوئې فرمائيل: مونږ له صرف هٔغه وړو وړو رکعتونو فائده راکړله کوم چې به مونږه د سحر پهٔ وخت ادا کول- (حلية الاولياء، 276/10، رقم:15220)

## ﴿8﴾ د تحية الوضو نـمونځ

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سحر د نـمونځ پهٔ وخت حضرت بلال رَضِىَ اللهُ عَـنْهُ ته وفرمائيل: اے بلاله! تا چې پهٔ اسلام کښې د ټولو نه زيات کوم اُميد والا عمل کړے دے هغهٔ ما ته بيان کړه ځکه چې ما پهٔ جنَّت کښې ستاسو د تللو اواز د ځان نه مخکښې اوريدلے دے نو حضرت بلال رَضِىَ اللهُ عَـنْهُ عرض وکړو: زما د ټولو نه زيات د اُميد والا عمل دا دے چې زهٔ چې د ورځې يا د شپې پهٔ څهٔ حصه کښې چې کله هم اودس کووم نو زما پهٔ قِسمت کښې چې کوم نـمونځ ليکلے شوے دے نو هغه د هٔغه اودس سره کووم- (بخارى، 390/1 ، حديث:1149)

مفتي عبدُ المصطفٰے اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: د حضرت بلال رَضِىَ اللهُ عَـنْهُ پهٔ جنَّت کښې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه مخکښې مخکښې تلل دا څهٔ د بے ادبئ خبره نه ده- د بادشاه څهٔ خادمان د بادشاه

نه وروستو وروستو او څهٔ خادمان مثلاً نقیب [یعني د بادشاهانو د سورلۍ نه مخکښې مخکښې اواز کوونکے] او چوبدار مخکښې مخکښې ځي او دا دواړه هُم د بادشاه با ادبه خادمان وي- د دې حدیث نه د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ د اوچتې درجے پته لګي چې هغهٔ پهٔ جنَّت کښې د حضور صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نقیب جوړ شو او د حضور صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه مخکښې مخکښې یـې د حضور صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د راتللو اعلان کولو او روان وو او د حدیث نه ظاهرېږي چې دا اوچته مرتبه هغوئې ته د "تحیة الـوضو" پهٔ برکت نصیب شوې ده- (بہشت کی کنجیاں، ص 77)

**مَدَني ګل!** د اودس نه پس د اندامونو وچیدو نه مخکښې دوه رکعته نـمونځ کول مستحب عمل دے-

## ﴿9﴾ زکوٰة

د خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ بارګاه کښې پهٔ کلي کښې اوسیدونکے یو صحابي حاضر شو او عرض یـې وکړو: پهٔ څهٔ داسې عمل باندې زما رهنمائي وکړئ چې کله زهٔ هُغه عمل وکړم نو جنَّت ته داخل شم- نو حضور صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائیلو: تهٔ د الله پاک عبادت کوه، د هغهٔ سره څوک شریک مهٔ ګرځوه او د رمضان روژې نیسه- نو هغهٔ چې دا واوریدل نو عرض یـې وکړو: پهٔ هُغه ذات باندې مې دې قَسم وي د

کوم پهٔ قبضهٔ قدرت کښې چې زما ځان دے چې زهٔ به د دې نه زيات نور څه نه کووم- بيا چې کله هغهٔ واپس لاړلو نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل چې د چا دا خوښه وي چې هغهٔ څوک جنَّتي انسان وه وينې نو هغهٔ دې دې انسان ته وګوري- (بخاری، 472/1، حديث:1397)

## ﴿10﴾ روژه

**د اخري نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے!** پهٔ جنَّت کښې يوه دروازه ده کومې ته چې "بابُ الرَّيان" وئيلے شي- پهٔ دې باندې به د قيامت پهٔ ورځ روژه نيوونکي (جنَّت ته) داخليږي، د روژه نيوونکو نه علاوه به څوک هم پهٔ دې دروازه باندې (جنَّت ته) نهٔ داخليږي- وئيلے کيږي به: روژه نيوونکي چرته دي؟ بيا به هغوئي ودريږي او د هغوئي نه علاوه به څوک هم پهٔ هغې باندې نه داخليږي- چې کله دا خلق داخل شي نو دا دروازه به بنده کړے شي- (بخاری، 625/1، حديث:1896)

## ﴿11﴾ حج

د صحابئ رسول حضرت ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے چې رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: يوه عمره د بَلې عمرې پورې د دې دوارو ترمينځه د ګناهونو کفاره ده او د حجِ مَبرور د جنَّت نه علاوه هيڅ جزا نشته- (بخاری، 586/1، حديث:1773)

## ﴿12﴾ پهٔ دُنیا کښې د خپل جنَّتي ځائے د لیدلو وظیفه

د اللّٰه پاک پهٔ خوږ اخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې روزانه درودِ پاک لولئ که لږه شان توجه وکړئ او لږ شان وخت اوباسئ او روزانه زر [1000] کرته درودِ پاک ولوستلے شي نو پهٔ داسې خوش قِسمته باندې څنګه کرم کیږي ولولئ: د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې پهٔ یوه ورځ کښې پهٔ ما باندې زر [1000] کرته دُرُودِ پاک لولي هغهٔ به تر هغه وخته پورې نه مرِ کیږي تر څو پورې چې پهٔ جنَّت کښې خپل مقام اونه ویني- (الترغیب فی فضائل الاعمال لابن شاہین، ص 14، حدیث:19)

ہر وقت جہاں سے کہ انہیں دیکھ سکوں میں  جنَّت میں مجھے ایسی جگہ پیارے خدا دے

(وسائلِ بخشش، ص 120)

## پهٔ جنَّت کښې به زنانۀ ته څهٔ میلاؤیږي؟

د جنَّت بیان چې ولولي یا واوري نو عام طور د زنانۀ پهٔ ذهن کښې راځي چې زنانۀ ته به پهٔ جنَّت کښې څهٔ میلاؤیږي؟ یا داسې زنانه کومې چې د واده نه مخکښې وفات شوې وي هغوئي چې جنَّت ته لاړې شي نو څنګه به اوسیږي نو پهٔ دې باره کښې تفصیل دا دے:

﴿1﴾ زنانۀ ته به په جنَّت کښې د هغوئي هٔغه خاؤندان میلاؤیږي په دُنیا کښې چې دوئي د چا په نکاح کښې وې په دې شرط چې خاؤند یې هم جنَّتي وي-

﴿2﴾ که د یوې زنانه خاؤند جنَّت ته لاړ نشي نو هغۀ به د بَل جنَّتي نارینه په نکاح کښې راوستے شي- دغه شان چې کومې زنانه د واده نه مخکښې وفات شوې هغوئي به هم په جنَّت کښې د چا نارینه په نکاح کښې راشي-

د دې نه علاوه د جنَّت نعمتونه مثلاً محلونه، جامې، خوراکونه او خوشبویانې وغیره د نارینه او د زنانه شریک دي- (فتاویٰ اہلِ سنّت ، سلسله نمبر 7، ص 24)

﴿3﴾ که یوه زنانه دیو نه پس بل او د بل نه پس بل د ډیرو نارینۀ په نکاح کښې راغله نو په دې کښې دوه قولونه دي: د یو قول مطابق د ټولو نه په اخره کښې چې د چا په نکاح کښې وه په جنَّت کښې به د هغۀ سره وي لکه څنګه چې د رسولِ کریم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ښځه به په جنَّت کښې د خپل هٔغه خاؤند په نکاح کښې ورکړے کیږي کوم چې په دُنیا کښې د هغې د ټولو نه اخري خاؤند وي-

( مسند الشامیین ، 2 / 359 ، حدیث : 1496)

دويم قول دا دے چې د کوم اخلاق ښه وي هغهٔ ته به ميلاؤيږي لکه ځنګه چې د ټولو مسلمانانو خوږې مور جانې، حضرت بي بي اُمِّ سلمه رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْها عرض وکړو: يَا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! بعضې زنانه پهٔ دُنيا کښې د دوه، دريو يا څلورو خاؤندانو سره (د يو به پس بل ) ودونه کوي بيا چې د مړه کيدو نه پس هغوئي پهٔ جنَّت کښې يو ځائے شي نو ښځه به د کوم خاؤند د پاره وي؟ ارشاد يـې وفرمائيلو: هغې له به اختيار ورکولے شي او د کوم خاؤند اخلاق چې پهٔ دُنيا کښې د ټولو نه ښه وي هغهٔ به اختياروي- ( معجم کبير ،23 / 368 ، حديث : 870 )

پهٔ دې دواړو حديثونو او اقوالو کښې ټکراؤ نشته لکه ځنګه چې حضرت اِمامِ احمد بن حَجر مکي شافِعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: کومې زنانه چې د يو نه پس بَل ډيرې نڪاح ګانې کړې وي او هر يو خاؤند هغې له طلاق ورکړے وي خو اخري خاؤند هغې له طلاق نه وي ورکړے او هغهٔ د هغهٔ پهٔ نڪاح کښې وفات شوه نو پهٔ دې حالت کښې به هغهٔ د اخري خاؤند پهٔ نڪاح کښې وي لکه ځنګه چې پهٔ وړومبي حديث کښې دي- دويم صورت دا دے چې هغې ډيرې نڪاح ګانې وکړې، هر يو خاؤند هغې له طلاق ورکړے وي او چې کله هغهٔ وفات شوه نو د چا پهٔ نڪاح کښې نه وه نو صرف پهٔ دې حالت کښې به هغې

له اختيار ورکولے شي او د کوم خاؤند اخلاق چې پهٔ دُنيا کښې د ټولو نه ښه وي نو هغه به هغهٔ اختياروي- (فتاویٰ حديثيه ، ص 70 ماخوذاً )

## دنيا ته د جنَّت نه راغلي 17 څيزونه

﴿1﴾ زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: زما د کور او د منبر پهٔ مينځ کښې ځائے د جنَّت پهٔ باغونو کښې يو باغ دے- (بخاری، 402/1 حديث:1195)

﴿2 نه تر 5﴾ د مدينے سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل چې څلور د برکت والا څيزونه الله پاک د اسمان نه نازل کړل: اوسپنه، وور، اوبه، مالګه- (تفسير صاوی، پ 27، الحديد:25، 2112/6 ملتقطاً)

## څلور جنَّتي غرونه او نهرونه

﴿6 نه تر 13﴾ د مدينے سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو: څلور نهرونه د جنَّت د نهرونو نه دي: نيل، فرات، سيحان او جيجان او څلور غرونه د جنَّت د غرونو نه دي: اُحد، طور، لُبنان او وَرقان- (البدور السافرة، ص 529)

﴿14 نه تر 16﴾ چې کله حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د جنَّت نه زمکې ته تشريف راوړلو نو حجرِ اسود، د موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام اَمسا، اوسپنه او هر قِسمه تخم يې د جنَّت نه د ځان سره راوړے وو- (تفسير صاوی، پ 27، الحديد:25، 2112/6 )

﴿17﴾ د معراج سورلۍ بُراق د جنَّت نه راغلے وه- ( مرأۃ المناجیح ، 8 / 137 ماخوذاً )

جبریل امین بُراق لئے جنَّت سے زمیں پر آپہنچے
بارات فِرِشتوں کی آئی معراج کو دولہا جاتے ہیں (وسائلِ بخشش، ص 287)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## دُعا بیک ٹائٹل

دُعائے مُصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم :

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ الرِّضَا بَعْدَ الْقَضَاءِ وَبَرْدَ الْعَيْشِ بَعْدَ

الْمَوْتِ وَلَذَّةَ النَّظَرِ اِلٰى وَجْهِكَ الْكَرِيْمِ وَالشَّوْقَ اِلٰى لِقَائِكَ ،

یعنې اِلٰهی! زهٔ ستا نه د قضا نه پس د رضا، د مرګ نه پس د ښه ژوند او ستا د دیدن د خوند او ستا د ملاقات د شوق سوال کووم- (معجم کبیر، 18 /319، حدیث: 825، دون ”الکریم“) مونږ ټول د الله پاک پهٔ بارګاه کښې دُعا کوو: اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنَا زِيَارَةَ وَجْهِكَ الْكَرِيْمِ بِجَاهِ حَبِيْبِكَ الرَّؤُوفِ الرَّحِيْمِ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالتسلیمُ، اٰمین! اے الله پاکه! د خپل مهربانه او رحیم نبي


صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ وسیله او پهٔ برکت مونږ ته د خپل دیدن سعادت رانصیب کړې۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

کل تو دیدار کا دن اور یہاں
آنکھ بے کار ہے کیا ہونا ہے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د راروانې هفتې رساله





فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ کراچۍ

UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net